مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان
۲۰۲۳/۰۱/۲۹

# وړه بنېګڼه

کوڅه دومره تنګه وه چې په یو وخت کې دوه تنه پکې یوځای نشوای تېریدلی. د ماښام تیاره خپره شوې وه؛ ځکه خو تیاره یو څه ډیره ښکارېده. هغه په یو لوی تیکري کې پټه، تیټ سر باندې را روانه وه:

که ما د غاړې په تازه کولو سره هغې ته د خپل شتون احساس نه وای ورکړی، نو ښایي راسره ټکر شوې وای.

زما په اواز وویرېدله، له دیوال سره ونښته او را نیغه شوه. له ویرې او دهشته یې وجود په لړزېدلو شو. د هغې د بې بسی په لیدلو سره مې ټول اندرون ولړزېده. د یوې بندې دروازې په زینې ودرېدم او هغې ته مې د لاس په اشارې د مخکې تلو وویل:

هغې په بې باوره سترګو ما ته راوکتل. زه په موسکا سره یو څه نور هم شاته شوم . د هغې په مخ د سکون او اطمینان څپې خپرې شوې. چې نیږدې مې له خوا تېرېده په مات مات غږ یې وویل:

«جزاک الله خیر»

زما له پاره به تر دې لوی خیر څه شی وي، که کله په کوم ځای کې کوم بل څوک زما له خور یا لور سره همداسې وړه نیکي وکړي.

ژباړه

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ